Te Korowai Whetū
Social Cohesion

# زه د خپلې ټولنه سره د مرستې لپاره څه کولی شم؟

## Social Cohesion Guide for Communities

## ټولنيز پيوستونونه

موږ د ډېرو دلايلو لپاره ټولنې جوړوو، موږ ښايي د يوې کورنۍ، ښوونځي، د ادارې، د سپورتي ټيم يا کليسا برخه واوسوو يا ښايي موږ نوې ژبه زده يا د نورو سره خوښي شريکه کړو. په هره ټولنه کې چې يو، دا ښه بريښي چې په ټولنيزو کړنو کې پخپله شامل يا هم د يوې ډلې برخه واوسوو او د پيوستون او مسووليت احساس وکړو.

موږ ټول يو له بل سره توپير لرو، مګر موږ غواړو يو ځای شو، خپل اختلاف او ناورته والی ولمانځو او د توپير په وخت کې يو بل ته درناوی وکړو.  دا مهمه ده ځکه چې دا احساس هر کس نه کوي چې هغه څوک چې دي هماسې دې واوسې يا دې باور پرې وشي چې د دوی غږ به واوريدلی شي.

موږ مخ پر زياتيدو متنوع او د ډېرو بيلا بيلو ټولنو درلودونکی هيواد يو او موږ اړتيا لرو چې يو بل ته د اوريدو او غوږ نيولو لارې چارې پيدا کړو. موږ غواړو د خپلو توپيرونو او قوتونو درک کولو ته ژمن شو، په هغه څه کار وکړو چې موږ سره متحد او يو بل ته مو نږدې کوي.

پيوستون

## - هغه څه ډول ښکاري

په يوه ټولنه کې چې موږ ټول په ښه توګه سره يوځای کيږو، نو موږ يو بل او خپل ګاونډيان پيژنو، د کار ځای کې د ښکيلتيا احساس کوو، ماشومان مو ځانونه د ټولنې برخه احساسوي او موږ پوهيږو چې د اړتيا په وخت کې د مرستې لپاره چيرته لاړ شو. موږ احساس کوو چې موږ د هغو خلکو سره د خبرو کولو توان لرو چې موږ ښايي په نورمال ډول ورسره خبرې کړي نه وي، کله چې موږ د خلکو تبعيضي خبرې اورو> پر وړاندې يې غږ پورته کړو، او په ارامه يې ور يادوو چې موږ څوک يو، د کوم ځای يو او کارونه څنګه تر سره کوو. په بحران کې موږ هيڅوک شاته نه پريږدو، هر څوک پکې شامل دي.

## د نورو پیوستونونو جوړول

# - تاسو څه کولی شئ

**نو، موږ څه کولی شو چې د ډیرو خلکو سره مرسته وکړو چې له موږ سره یو ځای شي، تنوع ته غاړه کیږدو، د پیوستون احساس وکړي، برخه واخلي، په نورو باور وکړي او د درناوي احساس وکړي؟**

### پیوستون او یو پر بل باور کول

- د هغه چا سره خبرې وکړئ چې ستاسو څخه توپیر لري. او هڅه وکړئ چې د هغه نوم په سمه توګه تلفظ کړئ. پوه شئ چې څه شی مغوی ته خوښي ورکوي او نړۍ ته له کوم اړخه ګوري
- له هغوی څخه وغواړئ چې ستاسو د سپورت ټیم سره یوځای شي، د ګډ فعالیت کولو لپاره ورته بلنه ورکړئ او خپلو ملګرو ته یې ور وپېژنئ. د اړتیا په صورت کې د انګلیسي، ټی ریو موري (Te Reo Māori) یا نیوزیلینډ د اشارې په ژبه کې ورسره مرسته وکړئ، او له هغوی څخه وغواړئ چې تاسو ته د هغو ژبو په اړه نور معلومات درکړي، په کومو چې هغوی پوهیږي.

### د تنوع منل او د درناوي احساس کول

- په خپل کار ځای کې د کارمندانو شبکې رامینځته کړئ یا یې ملاتړ وکړئ، چیرې چې خلک کولی شي یو له بل سره مرسته وکړي او د نسل، جنس، جنسیت او نورو توپیرونو پر بنسټ د تبعیض په څیر مسلو حل کولو لپاره کار وکړي. له خپل ادارو او کار ځای څخه وغواړئ چې د هغه همکارانو لپاره
- هاناو (Whānau) ملاتړ وکړي چې په کاري ځواک یا نورو ټولنو کې یې تبعیض تجربه کړی
- د خپل کاري ځای، شورا یا د ټولنیزو ډلو له لارې د تبعیض سره د مبارزې په اړه د روزنې په لټه کې شئ
- د خپلې سیمه ایزې شورا یا پارلمان غړي ته لیک واستوئ یا له حکومت څخه غوښتنه وکړئ چې د تبعیض د مسلو په اړه غږ پورته کړي.

### دتړاو احساس

- د ټولنې یا د ګاونډیانو ورځ په مناسبه توګه تنظیم کړئ او د ټولنې د ټولو برخو استازو ته بلنه ورکړئ چې د ماشومانو په ګډون پکې برخه واخلي.
- د ټولنې په هغو غونډو کې د ګډون لپاره خپل ملاتړ څرګند کړئ چې د هغو خلکو لخوا تنظیم شوي وي چې ستاسو سره توپیر لري
- د وبا په وخت کې د ټولنې په تالار، عبادت ځای یا بل ځای کې د واکسین کولو د کلینیک د کوربه کولو وړاندیز وکړئ
- د احتمالي وکیلانو یا (MPs) ترمنځ د سیمه ایزو یا ملي ټاکنو د بحث کوربه شئ
- ورته ټولنو ته رسیدنه وکړئ او وګورئ چې تاسو څنګه کولی شئ د دوی د دوه اړخیزو موخو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړئ
- خپل مارا (marae )، د عبادت ځای، جومات، کلیسا او کلب خونې د ټولنې پرمخ پرانیزئ او دوی ته اجازه ورکړئ چې پوه شي چې تاسو څوک یاست څو تاسو وپیژني.

### برخه اخيستل

- د وړيا آنلاین اپیونو (apps) لکه Kōrerorero، Kupu او Ako Tahi په کارولو سره Te Reo زده کړئ او تای یا د Te Wānanga o Aotearoa له لارې کورس ته نوم لیکنه وکړئ، په خپل محلي موزیم کې د تاریخ نندارتونونو څخه لیدنه وکړئ، یا د خپل محلي کتابتون څخه د NZ د تاریخ کتابونه په پور واخلئ.
- د هغه چا سره په زړورتیا خبرې وکړئ چې تبعیضي چلند ښکاره کوي. د بشري حقونو د کمیسیون د ویب پاڼه سرچینې کتورې کیدای شي، لکه د Responding to Racism
- د نظرونو په اړه مو د ټولنې له مشاورینو سره خبرې وکړئ ترڅو ستاسو په ټولنه کې نور پیوستون رامنځته کړي
- د کلتوري سکتور د پروژو د یوې برخې په توګه د ټولنیز یووالي په اړه د نظرونو په اړه د ټولنې مشاورینو، د ټولنې مشرانو یا NGOs سره خبرې وکړئ. همدارنګه نورې مرستې به هم شتون ولري - د انتخابونو په اړه د نورو معلوماتو غوښتنه وکړئ.